Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۲۰مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۴مه ګڼه
نېټه: ۱۴۰۴/۵/۳۰



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- ازبیکستان د افغانستان برېښنا کې ۲۴۳ میلیون ډالر پانګونه کوي

۲- د اوسپنې پټلۍ شبکه د افغانستان سوداګرۍ او سیمه ییز اتصال کې مهم رول لوبوي



# ازبیکستان د افغانستان برېښنا کې ۲۴۳ میلیون ډالر پانګونه کوي

د روان لمریز کال د اسد پـه ۲۶مه نېټه په کابل کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیـال محترم ملا عبدالغني برادراخوند په حضورکې د افغانســتان برېښنا شـرکت او ازبیکستان ترمنځ د برېښنا برخه کې د څلورو پروژو قراردادونه لاسلیک شول.

په دې پروژو کې د سرخان-دشــت الوان د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا لېږد مزي غځولو، د ارغندی سب سټېشن پراختیا، د کابل-شیخ مصــري ۲۲۰ کیلو ولټ برېښـــنا لېږد مزي غځولـو او د ننګرهار شیخ مصري سب سټېشن جوړولو پروژې شاملې دي.

په دغو پروژو کې ازبیکســتان ۲۴۳ میلیـــون ډالر پانګونه کوي، چې چارې به یې په ۱۸ میاشتو کې بشپړې شي.

د یادو پروژو د پلي کېدو موخه په هېواد کې د برېښـــنا د شـبکو تنظیم او وېش دی. د دغو پروژو اســـاسي موخه د ازبیکستان د شـــاوخوا ۱۰۰۰ میګاواټه برېښـــنا د لېـــږد او وېش له پـــاره زمینه برابرول دي.

په هېـــواد کې لــه خپلو ســـرچینو څخه د برېښـــنا کـــم تولید افغانســـتان اړکړی چې په دې ســـکټورکې په ګاونډیو هېوادونو متـــکي پاتې شي. امـــارتي اداري او مســـوولین هڅـــه کوي چې افغانستان له خپلو کورنیو سرچینو څخه د اړتیا وړ برېښنا تولید کړي او د دې له پاره یې پـــه مختلفو ولایتونو کې ګڼې پروژې پېل کړې دي، خـــو اوس وخت کې له بهر څخه د برېښـــنا واردول یو غوراوی دی چې له دې پرته په هېواد کې د برېښـــنا د ســـتونزې د کمښت د اغېزو د کمولو له پاره بله لاره نه شته.

د ازبیکستان له لوري د افغانســـتان د برېښنا شبکې پراختیا، د سب سټېشنو جوړول او پراخول او د مزو غځول په اوږد مهال کې د افغانستان د برېښنا شبکې له پاره ګټور دي، چې راتلونکي کې د افغانستان برېښنا شرکت له پاره د برېښنا د توزیع، تنظیم او د برېښنا د انرژۍ امنیت کارونه اسانوي.

# د اوسپنې پټلۍ شبکه د افغانستان سوداګرۍ او سیمه ییز اتصال کې مهم رول لوبوي

امارتي مسوولینو ویلي چې افغانستان اوس مهال شاوخوا ۴۰۰ کیلومتره اصلي او فرعي د اوسپنې پټلۍ لري. دغو شبکو افغانستان له ازبکستان، ترکمنستان او ایران سره نښلولی دی.

د اسلامي امارت مسوولین هڅه کوي چې یادې شبکې ته پراختیا ورکړي او د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب له لارې په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ شبکه پراختیا ومومي.

د ټولګټو وزارت وایي، د اوسپنې پټلۍ شبکې د نورې پراختیا له پاره اوس مهال د هرات-خواف د اوسپنې پټلۍ د څلورمې برخې د لومړي فاز ساختماني کارونه او د حیرتان-مزارشریف پټلۍ د بیارغونې چارې روانې دي. دغه راز، د پنځه سوه میلیونو ډالرو په ارزښت د تورغونډۍ-هرات او هرات-کندهار د اوسپنې پټلۍ د جوړولو تفاهم لیک له قزاقستان سره لاسلیک شوی دی.

سربېره پر دې، د تورغونډۍ بندر د پراختیا تړون له ترکمنستان سره د پنځه میلیون ډالرو په ارزښت لاسلیک شوی چې ژر به یې عملي چارې پیل شي.

د هرات-کندهار د اوسپنې پټلۍ، چې ۷۳۷ کیلومتره اوږدوالی لري، د ۲۶۴ میلیونه افغانیو په ارزښت یې د تفصیلي سروې او ډیزاین چارې روانې دي.

د اوسپنې پټلۍ د ټرانسپورټ له مهمو وسیلو څخه ده او د افغانستان په څېر وچه کې ایسار هېواد له پاره د دې سکټور پراختیا ډېره مهمه ده.

د اوسپنې پټلۍ اوسنۍ شبکې د افغانستان سوداګریزو اړیکو پراختیا کې مهم رول لوبولی دی. افغانستان له دې لارې له ایران، منځنۍ اسیا هېوادونو، چین او یوشمېر نورو هېوادونو سره سوداګري کوي او هر کال زرګونه ټنه صادرات او واردات کوي.

د اوسپنې پټلۍ د نورو مختلفو پروژو په پلي کېدو سره به افغانستان د سویلي اسیا بازارونو ته لاسرسی پیداکړي. دغه راز، د سیمې هېوادونه به د افغانستان اوسپنې پټلۍ شبکو له لارې په خپلو کې سوداګریزې اړیکې ټینګې او سیمه ییز اتصال به پیاوړی شي.

اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ په تعقیب سره غواړي چې سیمه ییز اتصال پیاوړی شي، څو افغانستان له دې لارې اقتصادي پرمختګ ترلاسه کړي.

